مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۵/۱۲

# د پخلنځي لوړه

## قصه په سلو ټکو کې

د هغې کره مېلمانه راغلل. دې له سهاره تر ماښامه پخلی وکړ، اوړه ئې واخښل، ماشومان ئې وساتل، د خواښې او خسر خدمت ئې وکړ. ستړیا ئې په چوپتیا کې پټه ونیول.

نارینه کښېناستل، تاوده خواړه، خنداوې او اوږدې خبرې. وروسته ئې د رزق د پیدا کولو د سختیو کیسې وکړې.

هغې په پخلنځي کې انتظار کاوه څو هغوی ولاړ سي، دا او لوښي ئې له هغوی پاته خواړه وخوري. لوړه ـ لوږه وي، که د باندې له سترو لاسونو څخه وي، که د پخلنځي له سوځېدلو لاسونو نه. خو پېـړیو هم د خوړو پر سر لیکل سوي نوبتونه پاک نه کړل.

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ